# د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرېکړه لیک

**شمیره:** ۲۱- ۱۳۹۳

**موضوع:** په دوو مرکزونو کې د درغلی د ریپورټونو په اړه چې د محافظتي کڅوړو سره یو ځای تر لاسه شوی دی.

**پلي کوونکي مرجع:** د ټاکنو خپلواک کمیسیون دارالانشاء

**د غونډې نېټه او ځای:** د ۱۳۹۳ د غبرګولي ۱۹مه (د ۲۰۱۴ کال د جون ۱۹ مه) د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر

**حاضر غړي:** ښاغلی داکتر احمد یوسف نورستاني، ښاغلی عبدالرحمن هوتکی، آغلې ګلالی اڅکزی، ښاغلی سریر احمد برمک، ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیوانی، ښاغلی محمد عزیز بختیاری، ښاغلی قاضی سلیمان حامد، آغلې لیلا احراري او آغلې شریفه زرمتی وردک.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنو خپلواک کمیسیون او ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون د تشکیل، دندو او صلاحیتونو قانون د ۱۳ مادې او ټاکنو قانون د ۵۸ او۵۹ مادو پر اساس پرېکړه وکړه چې:

د بلخ ولایت د رأیې ورکونې د دوو مرکزونو (۲۱۱۱۱۹۶ او ۲۱۱۵۳۱۲)اړوند د پایلو فورمو محافظتی کڅوړې د مشکوک والی او د درغلۍ د ریپورټونو پر اساس قرنطین شوې او په اړه يې لاندې اقدامات تر سره شول:

- د رأیې ورکونې (۲۱۱۱۱۹۶) شمېرې مرکز رأیې دې بیا وشمېرل شی او همدارنګه دې د دغه مرکز کارکوونکی په ټېره بیا د هویت د تثبیت کارکوونکې چې نوم يې په ریپورټ کې موجود دی، تر پوښتنو، ګروېږنو لاندې ونیول شی او د هغې موضوع واقعیت او څرنګوالی دې وڅېړل شی په اړه ریپورټ يې ورکړل شوی دی. که چېرې د پایلو د فورمو او د صندوقونو د رأیو تر منځ کوم توپیر موجود وو، درغلګر کسان دې د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون ته معرفی شی؛او
- د رأیې ورکونې (۲۱۱۵۳۱۲ ) مرکز دې تفتیش شی او د دغه مرکز له کارکوونکیو څخه دې د سیمه ییز قومندان له خوا په زور سره د صندوقونو د ډک کولو د ریپورټ په اړه دقیق او هر اړخیز معلومات تر لاسه شی.

| له پرېکړې سره مخالف | د غړیو نومونه | له پرېکړې سره موافق |
|---|---|---|
| | ښاغلی ډاکتر احمد یوسف نورستاني | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکی | |
| | آغلې ګلالی اڅکزی | |
| | ښاغلی سریر احمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیوانی | |
| | ښاغلی محمد عزیز بختیاري | |
| | ښاغلی قاضي سلیمان حامد | |
| | آغلې لیلا احراري | |
| | آغلې شریفه زرمتی وردک | |